د علامه حبیبي د شلم تلین په مناسبت:

په شلمه سدۍ کی

# د افغانستان هنر

۱۲۸۰ - ۱۳۵۲ ش / ۱۳۱۹ - ۱۳۹۴ ق

(۱۹۰۱ - ۱۹۷۳م)

لیکوال

علامه عبدالحی حبیبي

د

ډاکټر خوشحال حبیبي او حبیب الله رفیع

په اهتمام

Ketabton.com

۱۳۸۳

ketabton.com - The Digital Library

## کتابپېژندنه:

د کتاب نـوم: په شلمه سدۍ کې دافغانستان هنر.
لـــیکـوال : علامه عبدالحی حبیبي
نـــاشـر : دعلامه حبیبي د څېړنو مرکز.
دچاپ مهتمم: محمد نبي تدبیر
کـمـــپوز: محمدیوسف "ستانکزی"
د چـاپ ځای: د احمد صنعتي مطبعه
دچـــاپ کال : ۱۳۸۳ هـ ش / ۲۰۰۴ م
د چـاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

دعزیزالدین وکیلي پوپلزي په قلم لیکل شوېدی ۱۳۶۰

نوم: په شلمه سدۍ کې دافغانستان هنر.
وال : علامه عبدالحی حبیبي
ر : دعلامه حبیبي د څېړنو مرکز.
هتمم: محمد نبي تدبیر
پوز: محمد یوسف "ستانکزی"
ځای: د احمد صنعتي مطبعه
کال: ۱۳۸۳ هـ ش / ۲۰۰۴ م
شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


| سرلیك | مخ |
|---|---|
| د لوی او بخښونکي خدای په نامه | لومړی |
| سریزه | ۱ |
| ۱ خطاطي | ۳ |
| ۲ نقاشي او رسامي | ۷ |
| ۳ ننداري، پیښې | ۱۱ |
| ۴ ساز و آواز، اتڼ | ۱۷ |
| ۵ ودانۍ او معماري | ۲۸ |
| ۶ د کالیو صنعت | ۳۱ |
| ۷ مفروشات | ۳۳ |
| ۸ سنګتراشي او حکاکي | ۳۵ |
| ۹ مسګري او آهنګري | ۳۷ |
| ۱۰ ترکاڼي | ۳۹ |
| ۱۱ ګاولې او څپلۍ جوړول | ۴۱ |
| ۱۲ سراجي | ۴۲ |
| ۱۳ کلالي | ۴۳ |
| ۱۴ زرګري | ۴۵ |
| دولتي تشبثات | ۴۶ |

ketabton.com - The Digital Library

## فهرست


| | |
|---|---|
| ـ | مخ |
| او بخښونکي خدای په نامه | لومړی |
| | ۱ |
| ي | ۳ |
| او رسامي | ۷ |
| ، پېښې | ۱۱ |
| آواز، اتڼ | ۱۷ |
| ـ او معماري | ۲۸ |
| و صنعت | ۳۱ |
| ـات | ۳۳ |
| ـراشي او حکاکي | ۳۵ |
| ـري او آهنګري | ۳۷ |
| ي | ۳۹ |
| ـې او خپلی جوړول | ۴۱ |
| ی | ۴۲ |
| ې | ۴۳ |
| ي | ۴۵ |
| ي تشبثات | ۴۶ |


# د لوی او بخښونکي خدای په نامه

افغانستان يو لرغونی هېواد دی چې ژوند يې په دريوسره بېلو دورو کې مطالعه کېږي:

يوه تر تاريخ وړاندې دوره ده، چې غارمېشتو انسانانو ژوند پکې پيل کړی او لـه پنځوس زر کلونو وړاند زمانې نه يې د خپلو ابتدايي صنايعو، هنرونو اوکارونو نخښې راپاتې دي، دوی لومړی له ډېرو نه دښکاراوکار ډېر ابتدايي افزار جوړکړي او کله يې چې د ژوند اړتياوې پوره شوې نوبيا يې د خپلې استوګنې دغارونو پر دېوالونو ډېر ابتدايي انځورونه جوړکړي چې د افغانستان په شمال کې يې په خپلوسمڅو کې دنورو انځورونو ترڅنګ د انسان څېره هم د خرمېړي په بڼه جوړه کړې او همداسې يې ورو – ورو ډېرين، خاورين او بيااوسپنيز لوښي او افزار جوړکړي او صنايع او هنرونه يې په لومړنی بڼه رامنځ ته کړيدي.

لومړی

ketabton.com - The Digital Library

دوهمه نیمه تاریخي، افسانوي یاد سرودونو دوره ده، دا دوره د افغانستان د ژوند داسې ځانګړې دوره ده چې د نورې نړۍ له ژوند نه بېله ده. په دې دوره کې لیك لاته وې پیدا شوی خو په آریاناکې ریشیانو ( روحاني شاعرانو) د خپلو اخلاقي شعرونو په ویلو سره د خلکو لارښوونه کوله او په شفاهي توګه د روزنې او زده کړې دوره پیل شوې وه.

دریمه دوره د هېواد تاریخي دوره ده چې په دې دوره کې لیك را پیدا شوی وې، مدبر پاچا یما یا جمشید دهېواد په لرغوني پلازمېنه بلخ کې دیوه پاخه آریایي تمدن بنسټ ایښی وې او بیا وروسته سپین تمان زردښت د ښې منني،ښې وینې او ښې کړنې دین رامنځ ته کړ، بیا آریانا ته د سکندر په راتلو یوناني تمدن له آریایي تمدن سره غاړه غړی شو، تر هغې وروسته افغانستان ته بودایي دین راغی، ددې او د نورو پېښو او تجربو په نتیجه کې صنایعو او هنر وده وکړه خصوصاً د بودایي دین له راتلو سره په انځور ګری او مجسمه جوړولو کې دګندهارادآرټ ځانګړی مکتب رامنځ ته شو او په افغانستان کې په زرګونو هنري آثار خلق او ابداع شول.

افغانستان ته د اسلام د سپیڅلي دین په راتلو د صنایعو او هنر په نړۍ کې نوې تجربې وشوې.ښکلي او ظریف صنایع دود شول خصوصاً دخطاطۍ، تذهیب، میناتور او صحافۍ فنونو او هنرونو ښه وده وکړه او فني سبکونه اومکتبونه رامنځ ته شول.

اروانباد علامه عبدالحی حبیبی چې دهېواد نوښتګر لیکوال، سترګور مورخ او پوه او پوخ عالم وې دخپلو ژوروعلمي او تاریخي

ketabton.com - The Digital Library

یمه تاریخي، افسانوي یاد سرودونو دوره ده، دا دوره د
ژوند داسې ځانګړې دوره ده چې د نورې نړۍ له ژوند نه
دې دوره کې لیک لاته وې پیدا شوی خو په آریاناکې
حاني شاعرانو) د خپلو اخلاقي شعرونو په ویلو سره د
ونه کوله او په شفاهي توګه د روزنې او زده کړې دوره

وره د هېواد تاریخي دوره ده چې په دې دوره کې لیک را
مدبر پاچا یما یا جمشید دهېواد په لرغوني پلازمېنه
پاخه آریایي تمدن بنسټ ایښی وې او بیا وروسته سپین
د ښې منني،ښې وینې او ښې کړنې دین رامنځ ته کړ،
ه د سکندر په راتلو یوناني تمدن له آریایي تمدن سره
نو، تر هغې وروسته افغانستان ته بودایي دین راغی،
رو پېښو او تجربو په نتیجه کې صنایعو او هنر وده وکړه
یودایي دین له راتلو سره په انځور ګرۍ او مجسمه
دګندهارادآرټ ځانګړی مکتب رامنځ ته شو او په
کي په زرګونو هنري آثار خلق او ابداع شول.
تان ته د اسلام د سپیڅلي دین په راتلو د صنایعو او هنر
نوې تجربې وشوې.ښکلي او ظریف صنایع دود شول
خطاطي، تذهیب، میناتور او صحافي فنونو او هنرونو
ع او فني سبکونه اومکتبونه رامنځ ته شول.
علامه عبدالحی حبیبي چې دهېواد نوښتګر لیکوال،
ورخ او یوه او پوخ عالم وې دخپلو ژوروعلمي او تاریخي



څېړنو په ترڅ کې د افغانستان پر صنایعو او هنر ګڼې څېړنې کړې وې چې په دې لړ کې، یې له مقالو او رسالو نه نیولې تر پنځو کتابونو پورې کښلي وو، «هنر عهد تیموریان» داستاد داسې اثر وې چې په لویه کچه او تر زړو زیات مخونه یې درلودل او هم یې وخت په په دې برخه کې ګڼې مقالې او رسالې لیکلې دي.

په دې لړ کې د دوی په آثارو کې یوه دري رساله د «یادداشتها در تاریخ صنایع افغانستان» په نامه شته چې په ۱۳۴۳ کال د آریانا مجلې په پنځوګنو کې پر له پسې خپره شوې ده، په دې رساله کې دافغانستان په اسلامي دوره کې دخطاطۍ، نقاشۍ، مصورۍ،تذهیب، صحافۍ، فلزکارۍ، منسوجاتو، غالۍ او بدنې، ودانیو او ترکاڼۍ د صنایعو او هنرونو په باب مطالب لیکل شوي او ژوره څېړنه پرې شوې ده.

همدا راز ددوی په آثارو کې «په شلمه سدۍ کې د افغانستان هنر» یوه پښتو قلمي رساله شته چې معاصره خطاطي، نقاشي او رسامي، ننداري او تیاتر، ساز، اوازاو اتڼ، ودانۍ او معمارۍ،د کالیو صنعت، مفروشات، سنګتراشي او حکاکي، مسګري او آهنګري، ترکاڼي، کاولي او خپلۍ جوړول، سراجي، کلالي،زرګري اوپه دې برخه کې دولتي تشبثات څېړي.

په دې رساله کې لوی استاد له ۱۲۸۰ تر ۱۳۵۲ کال پورې د افغانستان هنر څېړلی خو د لیکلو کال یې تر ۱۳۵۷ کال وروسته دی ځکه لومړنۍ مسوده یې د همدې کال د یوه چاپي کلیز د پاڼو پر

ketabton.com - The Digital Library

شا کښېلي او هم د ۱۳۵۹ کال يادونه لري او په دې توګه دا کوچنی خو موجز اثر دده د ژوند له وروستيو آثارو څخه شميرلای شو.

په حقيقت کې دا دواړې رسالې په اسلامي دوره کې د افغانستان پر صنايعو او هنر رڼا اچوي. ددې صنايعو او هنرونو له ښو څخه مو خبروي او ددې ښکلو صنايعو صنعتکاران او هنرمندان راپېژني.

د علامه حبيبي د څېړنو مرکز چې د لوی استاد دآثارو د راټولولو او خپرولو دنده لري. له دې دواړو رسالو څخه هم د وړې وځنډېلې او چاپ ته يې چمتو کړې چې په يو وخت خپرې شي او دافغانستان د صنايعو او هنر دمينه والو تنده ماته کړي.

موږ به هڅه کوو چې د علامه حبيبي ټول ناچاپه او چاپي کتابونه او رسالې په ځانګړې بڼه او ټولې مقالې يې په ((زرمقالې/ هزار مقاله)) نومي شل ټوکيز اثر او هم يې اشعار او افکار په بېلا بېلو رسالو کې نشر کړو او هم دده دژوند او آثارو په باب ليکنې، څېړنې، مقالې او رسالې خپاره کړو.

ددې زيرې په درکولو سره خپلې خبرې بس کوواود لوی استاد د دې ظاهراً وړو خو په ارزښت کې لويوآثارو لوستلو ته مو رابولو!

په درنښت

دعلامه حبيبي د څېړنو مرکز

۱۳۸۳/۸/۱۷

ketabton.com - The Digital Library

هم د ۱۳۵۹ کال یادونه لري او په دې توګه دا کوچنۍ
دده د ژوند له وروستیو آثارو څخه شمیرلای شو.
ت کې دا دواړې رسالې په اسلامي دوره کې د افغانستان
و هنر رڼا اچوي. ددې صنایعو او هنرونو له بڼو څخه مو
دې ښکلو صنایعو صنعتکاران او هنرمندان راپېژني.
ه حبیبي د څېړنو مرکز چې د لوی استاد دآثارو د راټولولو
نده لري. له دې دواړو رسالو څخه هم د وړې وځندلې او
چمتو کړې چې په یو وخت خپرې شي او دافغانستان د
هنر دمینه والو تنده ماته کړي.
هڅه کوو چې د علامه حبیبي ټول ناچاپه او چاپي کتابونه
یه ځانګړې بڼه او ټولې مقالې یې په ((زرمقالې/ هزار
مي شل ټوکیز اثر او هم یې اشعار او افکار په بېلا بېلو
تشر کړو او هم دده دژوند او آثارو په باب لیکنې، څېړنې،
سالې خپاره کړو.
یري په درکولو سره خپلې خبرې بس کوواود لوی استاد د
ورو خو په ارزښت کې لویوآثارو لوستلو ته مو رابولو!

په درنښت

دعلامه حبیبي د څېړنو مرکز

۱۳۸۳/۸/۱۷



# سـریـزه

لـه لسمی سدۍ را پدې خوا د پنځلسمې سدۍ تر پایه د غزنویانو او غوریـانواو تـیموریانو پـه زمـانو کـې پـنځه پـیړۍ هـنر دخلکـو او مقتدرو فیوډالیکورنـیو پـه غېږ کې روزل سوۍ او په پنځلسمه پیړۍ کې د هرات هنري مکتب دخپلې لوړتیا جګې څوکې ته رسېدلۍ و.

خطاطي، نقاشي، میناتور، کتابسازي، موسیقي او نور نفیس صنایع پـه ګرده خراسان کـې پاخه سوي او هم عـام سوي وو. پـه زرو هنرمنان او ماهر صنعت ګران په هرات، مشهد، بخارا، سمرقند، بلخ او نورو ښارونو کې پخپل هنري خلاقیت بوخت وو.

لـه هغـه وختـه چې د هرات د تیموریانو لویه واکمني (شاهنشاهي) دپنځلسمې سدۍ پـه لومړۍ څلورمـه کې ورانـه سوه. نـو د مملکت پراخه سیمه د بابرشاه دکورنۍ او دایران د صفویانو او د ماوراء النهر د خانـانو ترمـنځ دجـنګو او خاندانـي رقابـتو او ډغـرو مـیدان و، او

ketabton.com - The Digital Library



پخوانی مرکزیت یې له لاسه وتلئ و، خلك له دغو مسلطو قواوو سره مقابلې ته ولاړ وو.

نولسمه سدۍ په افغانستان کې داسې وخت دئ، چې داحمدشاه تر شاهنشهۍ وروسته د ملوکیت طوایف فساد شروع سو، اقتدار د سدوزو له کورنۍ څخه د بارکزو محمد زو تېر ته انتقال کاوه او په ټول مملکت کې له کشمیره او جیلم له غاړو تر هراته او آمو پورې خانه جنګي نښتې وه، خلك د یوه فاسد نظام په منګولو کې ځپل کېدل او په داسې حال کې نه خلکو او نه دربار او نه د اقتدار مرکزونو دا فرصت درلود چې هنر او پوهه پکې وروزل سي.

پر افغانستان د انګریزانو لومړی تجاوز (۱۸۳۹ - ۱۸۴۲) او دوهمې لښکر کښۍ (۱۸۷۸ - ۱۸۸۰) څلوېښت کاله دامملکت د ظلم او وینو په لمن کې ونغاړه او کله چې په ۱۸۸۰م امیر عبدالرحمن د کابل پاچا کړ سو، نو هنر هم پخپل ځبلي حالت کې و او د زړو هنرونو بڅرکي لږ لږ په خلکو کې ځلېدل، چې دلته په لنډه راوړل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



لاسه وتلئ و، خلك له دغو مسلطو قواوو سره

غانستان کې داسې وخت دئ، چې داحمدشاه
. ملوکیت طوایف فساد شروع سو، اقتدار د
د بارکزو محمد زو ټبر ته انتقال کاوه او په
میره او جیلم له غاړو تر هراته او آمو پورې
خلك د یوه فاسد نظام په منګولو کې ځپل
، کې نه خلکو او نه دربار او نه د اقتدار
چې هنر او پوهه پکې وروزل سی.
ریزانو لومړی تجاوز (۱۸۳۹ - ۱۸۴۲) او
۱۸۷. - ۱۸۸۰) څلوښت کاله دامملکت د
ـي ونغاړه او کله چې په ۱۸۸۰م امیر
کړ سو، نو هنر هم پخپل ځبلي حالت کې و
لړ لړ په خلکو کې ځلېدل، چې دلته په لنډه

## (۱)
# خطاطي

د هرات د تیموریانو له زمانې څخه چې کوم هنر په افغانستان کې پاته و، یوه هم خطاطي وه، چې په څورلسمه سدۍ کې یې په خراسان او ماوراء النهر او ایران کې ډېره ترقي کړې وه، هم په کتیبو او هم په کتابو کې یې ډېر هنري ډولونه (سبکونه Epigraphy) موندلي وو، چې له هغو څخه نستعلیق، نسخ اوثلث په کتابو اوکتیبو کې او شکست ډول په دفتري نوشتوکې شلم قرن ته رارسېدلي وو.

**په افغانستان کې دنستعلیق دروش دوو ډولو ډېر رواج درلود:**

۱. لومړی: دمیر عماد حسیني (مړ ۱۰۲۴ ق ۱۶۱۴ م) روش، چې دورونه یې ګردي او کوچني وي.

ketabton.com - The Digital Library



دوهم: د میر عبدالرحمن هروي روش. چې د نونسم قرن په منځ کې راووت او د خط دورونه يې عموماً بیضوي وي او دغو دوارو روشونو پخپل منځ کې ځینې فني او تخنیکي فرقونه په اصول، ترکیب، کرسی، سطح، نسبت، صعود، تشمیر، نزول، ارسال، دور کې سره درلودل. نو ځکه ځینې خطونه د ډېر قوت او شان او صفا او مزي خاوندان وو چې لیدونکي يې په لیدلو سره یو خوند او ((مزه)) مونده.

د نستعلیق دغه وروستنی استاد میرزا میر عبدالرحمن هروي، چې په هرات او کندهار او کابل کې اوسېدئ (مړ، هرات ۱۲۶۸، ۱۸۵۰م) د افغانستان د وروستنۍ خطاطۍ لوی استاد و، چې په هرات کې يې ډېر شاګردان لکه ملا محمد حسین، میرزا نجف، بهرام خوانساری او میرزا جان مستوفي وروزل او تر اوسه هم ځینې خطاطان دده تقلید کوي.

بل لوی خطاط چې په نستعلیق کې يې دمیرعماد او میرعلي روش ژوندی کړئ، دقندهار د پښین له سیدانو څخه سیدعطامحمد حسیني دسید تاج محمد زوی دسید زمان لمسی دئ، چې امیر عبدالرحمن خان د خپل دربار خوشنویس په ۱۳۱۰ ق ۱۸۹۲ م مقرر کئ او په خفي نستعلیق يې د تذکره الاولیاء دوه ټوکه ولیکل (د کابل د آرشیف کتابخانه) او په ۱۳۰۱ش ۱۹۲۲م په کابل کې وفات سو.

## ددې عصر نور د خط مشهور استادان دادي:

۱. سردار غلام محمد طرزي د سردار رحمدل قندهاري زوی د شکسته خط لوی استاد او نقاش او شاعر (مړ په دمشق کې ۱۳۱۸ ق ۱۹۰۰م).

ketabton.com - The Digital Library



۲. قاضي طلامحمد د قاضي محمدحسن پښنوري زوی (حدود ۱۸۹۰م).
۳. محمدعمر بر دراني (مړ هرات ۱۹۱۲م).
۴. میرزا غلام قادر کاکړ د سراج الاخبار کاتب (حدود ۱۹۱۰م).
۵. سید میر مشوانیي شاعر، خطاط، نقاش (مړ هرات: ۱۹۱۴م).
۶. میرزا محمد جعفر قندهاری (مړ کابل ۱۳۰۶ش ۱۹۲۷م).
۷. میرزا محمد یعقوب مخلص کابلی (مړ کابل ۱۳۰۱ش ۱۹۲۲م).
۸. حسن حلمي ترابزوني (په ۱۳۲۶ ق ۱۹۰۸م په کابل کې د خطاطۍ او نقاشۍ او حکاکۍ دمکتب معلم و، (مړ کابل: ۱۳۰۲ ش ۱۹۲۳م).
۹. شیخ محمد رضا خراساني د ډول ډول خطو لیکوال او غټ هنرمن (وروسته به هم یاد سي)
۱۰. تاجور سلطان بي بي جان خانم د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله ماینه (مړه کابل ۱۳۱۸ ش ۱۹۳۹م).
۱۱. سید محمد عمر پیله کش د میر عبدالرحمن هروي لمسی (مړ هرات ۱۹۲۸ م).
۱۲. ملا فیض محمدهزاره (مؤرخ اونستعلیق نویس.(مړ کابل ۱۹۳۰م).
۱۳. صوفي عبدالحمید د نصرالله بارکزي قندهاري زوی (لوی خطاط او د صنایعو استاد، مړ کابل ۱۳۴۱ ش ۱۹۶۳ م).
۱۴. مولانا محمد اسحق زرین قلم (مړ کابل ۱۳۱۵ش ۱۹۳۶م).
۱۵. خلیفه محمدحسین سلجوقي نستعلیق نویس(مړ هرات ۱۳۳۸ ش ۱۹۵۹م).

ketabton.com - The Digital Library



۱۶. میر آقا حسیني هروی دمیرکاظم زوی دهرات نستعلیق نویس (مړ هرات ۱۳۳۲ ش ۱۹۵۳م).

۱۷. سید محمد ایشان حسیني د سیدمحمد اسماعیل زوی د ډول ډول خطو استاد (ژوندی).

۱۸. دده ورور سید محمد داوٶد حسیني د ډول ډول خطو استاد (مړ کابل ۱۳۵۷ ش ۱۹۵۷م).

۱۹. عزیز الدین وکیلي پوپلزی د حاجی نظام الدین زوی (ژوندی هفت قلمي خطاط او نقاش او ماهر هنرمن او مورخ).

۲۰. محمد علي عطار هروي (ژوندی ماهر خطاط).

۲۱. فیض محمد زکریا (ژوندی، نستعلیق نویس).

۲۲. محمد ابراهیم خلیل د فضل احمد زوی (ژوندی شکسته نویس).

۲۳. حسین وفا سلجوقی (ژوندی، خطاط).

## مآخذ:


- فکری سلجوقی: خوشنویسان و هنرمندان ۱۰۸ د کابل طبع ۱۳۴۹ ش.
- پاینده محمد زهیر: د افغانستان دمعارفو تاریخ ص ۷۹ کابل ۱۳۳۹ ش.
- د وزارت معارف نظامنامه ۴ کابل ۱۳۰۰ ش.
- عزیز الدین وکیلي. هنر خط در افغانستان. کابل ۱۳۴۲ ش.
- مجنون رفیقی هروی: رسالهء خط. کابل ۱۳۵۵ ش.
- یوه ډله بین المللی پوهان: د کتابو هنر په منځنۍ آسیا کې د یو نسکو له خوا خپور سوئ کتاب ۱۹۷۹ م لندن.

ketabton.com - The Digital Library



...روی دمیرکاظم زوی دهرات نستعلیق نویس
...س ۱۹۵۳م).
...ن حسیني د سیدمحمد اسماعیل زوی د ډول
...وندی).
...مد داؤد حسیني د ډول ډول خطو استاد (مړ
...۱۹۵...م).
...ي پوپلزی د حاجی نظام الدین زوی (ژوندی
...و نقاش او ماهر هنرمن او مورخ).
...هروي (ژوندی ماهر خطاط).
... (ژوندی، نستعلیق نویس).
...ی د فضل احمد زوی (ژوندی شکسته نویس).
...ی (ژوندی، خطاط).

...سان و هنرمندان ۱۰۸ د کابل طبع ۱۳۴۹ ش.
...نستان دمعارفو تاریخ ص ۷۹ کابل ۱۳۳۹ ش.
... ۴ کابل ۱۳۰۰ ش.
...ط در افغانستان. کابل ۱۳۴۲ ش.
...ـه‌ء خط. کابل ۱۳۵۵ ش.
...ن: د کتابو هنر په منځنۍ آسیا کې د یو نسکو له خوا
...م لندن.

# (۲)
# نقاشي او رسامي

په شلم قرن کې د هرات د هنري مکتب ډېرې سپکې اغېزې په افغانستان کې پاتـه وې، ځینو هنرمندانو پـه شخصـي ذوق نقاشـي، رسامي کولـه. پـه غزنـي، کابل او هرات کې ځینې هنرمند دکانداران وو، چې قلمدانونـه، د لاس لکړې، رنګینې تختې او صندوقچې بـه یې پـه ګلانـو او ډول ډول رنګونو سره ښکلې جوړولې، خو رنګونـه بـه کله پخواني اصیل معدني او کله به جوهري مصنوعي وو.

د کتابو د وقـایو او پـاڼو اوځینو خطي قطعاتو په تزئین کې به هم کلـه کلـه د هـرات، بخـارا، یاکشـمیر د وروسـتني منـیاتور پـه تقلـید ځـینې پاڼې رنګین کېدلې. خو هغه قدیم اصالت او ښکلا یې بایللي وو.

ketabton.com - The Digital Library



د نقاشـۍ پـه څـانګو کـې رنـګ آمـيزي، تذهيـب، منـياتور، ګلکـاري، پـر فلـزاتو يـا ډبـرو نقاشـي، دخونـو د ديوالـو انځـور کـول، دکوټو د چت او دروازو نقاشي او په فلزي يا د لرګي په تختو ښکلول او مسطح کول رواج وو.

لـه وروسـتيو نقاشـانو څخه يـو ميـرزا رضـا هـروي و، چې د امير شهنواز خان په امر يې د امير دوست محمد خان او سلطان احمد خان دجنګ صحنه کښلې ده (د هرات موزيم) بـل دده شـاګرد ميرزا باقر کابلي په هرات کې اوسېدئ، چې زوی يې استاد عبدل هم تکړه رسام و، محمـد عظيم ابکـم هـم د ميـرزا رضـا څخه نقاشي اورسـامي زده کړې وه، چې ځينې رسمونه يې په سراج الاخبار کې چاپ سوي دي (مړ کابل د ۱۳۰۰ ق حدود ۱۸۸۲م).

د ميـرزا باقـر نـور شـاګردان دادي: حـاجی فخرالديـن هـروي (مـړ هرات ۱۳۱۸ ش ۱۹۳۹ م).

مـيرزا فقـير د رضـا ورور (مـړ هـرات ۱۳۰۴ ش ۱۹۲۵ م) ميرزا سکندر د رضا بل ورور (مړ هرات ۱۳۱۵ ش ۱۹۳۶ م).

تـر اسـتقلال بيا مونـدلـو را وروسته چې په ۱۲۹۸ ش ۱۹۱۹ م د افغانسـتان مسـتقل دولـت دامـان الله خان او نورو پوهو آزاديخواهانو پـه لاربنوونـه تاسيس سو، په نوو اصلاحاتو کې د پوهنې او هنر روزنې تـه هـم يـوه هڅـه وسوه. په ۱۳۰۰ ش ۱۹۲۱ م د وزارت معارف لپاره يـوه نظامنامه خپره سوه، چې ددغه وزارت د تدريساتو په څانګه کې يـو د نفيسـو صـنايعو دمکتب مديريت هم ومـنل سـو (ص۴) او دغـه مديريت تـه د صنايعو د روزنې وظايف وسپارل سـوه، د ابتدايي او

ketabton.com - The Digital Library



رشدي مکتبو او دارالمعلمین په پروګرام کې تر لسم صنف پورې رسامي او لاسي چارې (صنایع یدي) داخل سوه او د رسامۍ دبشپړو زده کړو لپاره غلام محمد خان میمنه ګي چې په رسامي کې یې مهارت درلود ،جرمني ته واستول سو ، چې هلته په نوي ډول خپل فن تکمیل کي.

په ۱۳۰۲ش ۱۹۲۳ م چې دغه پروفیسر کابل ته راغئ، نو دده په لاربنوونه چې په برلین کې یې رسامي او رنګه لیتوګرافي ډېره ژر او په لوړه درجه زده کړې وه، د کابل په لندنۍ کوټۍ کې ((مکتب صنایع نفیسه)) جوړ سو، چې د رسامۍ، تزئین، رنګمالۍ، معمارۍ، نجارۍ، حکاکۍ څانګې یې درلودې او په ۱۳۰۵ ش ۱۹۲۶ م له المانه څخه یوه رنګه مطبعه هم پر زیاته سوه، چې په همدغه کال دغه دستګاه وسوځله سوه.

د افغانستان تر اغتشاش وروسته په ۱۳۱۱ ش ۱۹۳۱ م بیرته دامکتب ژوندی سو، چې دخیاطۍ، بسته کارۍ، زرګرۍ، مهندسۍ، غالۍ اویلو، لیتوګرافۍ، قالب سازۍ، نقاشۍ څانګې پکښې زیاتې سوې او څلور صنفه یې لرل. دغه مکتب په ۱۳۲۵ ش ۱۹۴۶ م تعطیل سو، چې وروسته یې په ۱۳۲۷ ش ۱۹۴۸ م ځای د تخنیك مکتب ونیو.

پروفیسر غلام محمد خان په رسامۍ او نقاشۍ کې ډېر شاګردان وروزل، څو چې په کابل کې د ۱۳۱۴ ش په قوس کې (= دسمبر ۱۹۳۵م) وفات سو.

د شلم قرن په هنرمندانو کې شیخ محمد رضا خراساني (خطاط، نقاش، عالم) د خزاین السکوك او ریاض الالواح مولف لوی هنرمن و (مړ کابل ۱۳۲۰ ش ۱۹۴۱م) چې په لومړي کتاب کې یې په ۱۹۰۷م

ketabton.com - The Digital Library



د افغانستان اسلامي مسكوكات ولوستل او كټ مټ يې په دې كتاب كې رسم كړل. په رياض الالواح كې يې په ۱۹۰۸ د غزني د قبرو او بناوو نوشتې كټ مټ رانقل كړې (د كابل عكسي چاپ ۱۹۶۷ م).

ددې عصر بل هنرمن پروفيسر عبدالغفور برېشنا دئ چې په ۱۳۰۵ ش ۱۹۲۶ م د رسامۍ او نقاشۍ د زده كړې لپاره برلن ته لېږل سوئ و، په ۱۳۰۸ ش ۱۹۲۹ م وطن ته راغئ، ده په مكتب صنايع نفيسه او دولتي مطبعه كې ډېر شاګردان وروزل، چې غوث الدين رسام او غلام علي اميد، سيد جلال او نور ډېر هنرمندان له دغې ډلې څخه دي او د دوى په قلم ځينې رنګه يا تور مهم تابلوګان پاته دي. استاد برېښنا په ۲۶ جدى ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳م په كابل كې ۶۶ كلن وفات سو.

په ۱۳۵۰ ش كال د اطلاعاتو او كلتور د وزارت په چوكاټ كې يو د هنر رياست جوړ سو، چې د مستظرفه صنايعو موسسه يې يوه برخه ده او اوس د غلام محمد ميمنه ګي په نامه يادېږي. دغه رياست دندارو هنري كارونه هم پر مخ بيايي.

## مآخذ:


- فكرى. خوش نويسان ۱۰۸.
- زهير: دمعارفو تاريخ ۷۹.
- وكيلى. هنر خط در افغانستان.
- دوزارت معارف نظامنامه ۴

ketabton.com - The Digital Library



وكات ولوستل او كتې متې يې په دې كتاب
سواح كې يې په ۱۹۰۸ د غزني د قبرو او
كړي (د كابل عكسي چاپ ۱۹۶۷ م).

پروفيسر عبدالغفور برېښنا دئ چې په
مي او نقاشۍ د زده كړې لپاره برلن ته
ل ۱۹۲۹ م وطن ته راغئ، ده په مكتب
طبعه كې ډېر شاګردان وروزل، چې غوث
ميد، سيد جلال او نور ډېر هنرمندان له
ږي په قلم ځيني رنګه يا تور مهم تابلوګان
۲۶ جدى ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳ م په كابل كې

لاعاتو او كلتور د وزارت په چوكاټ كې
چې د مستظرفه صنايعو موسسه يې يوه
مد ميمنه ګي په نامه يادېږي.دغه رياست
مخ بيايي.

# (۳)
# ننداري، پېښې (تياتر)

له پخوا زمانو څخه په خراسان كې دتمثيل غوندې راز - راز پېښې او لوبې وې، چې په شاهي دربارو او د خلكو په بنډارو او بزمو كې د ساتېرۍ او تفريح او عبرت يا خندا لپاره ښيلې كېدې. په ښارو كې تاكلي ډلې خلك او اداكاران (پېښندويان) ددغه كار د پاره وو او دوى به په اخترو او ښاديو او مېلمستيا وواو مېلو كې په ډول ډول دتمثيل صحنې جوړولې. په ځينو ځايو كې د محرمې ددهې په ورځو كې د امامانو د شهادت او ناورين قصې هم په تمثيلي حركاتو سره ښكاره كول كېدې، چې دتريجيډي تمثيل يوه نمونه وه.

كله كله به په بازارو او ګڼو ګولنو كې د قصه كوونكو او مداحانو ډلې ولاړې وې، ځينې ديني ياحماسي قصې لكه امير حمزه، ابو

ketabton.com - The Digital Library



مسلم خراساني، د پیغمبر(ص) د اصحابو او یارانو (رض) داستانونه به یې په بدني حرکاتو یاد لکړې او تبرزین په ښورولو تمثیل کول او په ترنم به یې قصې بیانولې.

په کابل کې به دربار هم یو ((مجلس آرا)) درلود. دې سړي به ځیني د عیارانو او پخوانو پهلوانانو داستانونه، یوازې یا په ډله ییزه توګه تمثیل کول او کله به یې د شاهنامې داستانونه په حماسي لهجه او حرکاتو سره ښیل. دخلکو په بنډارو او میلو کې ځیني ممثلان (پښبندویان) هم وو، چې د هغه ښار یا کلي په ژبه یې ځیني حماسي یاد ټوکو او خندا یا عشقي داستانونه، پخپله اداکارۍ خلکو ته ورښیل، چې د ۱۹۱۰ م په شاوخوا کې د کابل فقیراحمد مجلس آرا د ملامحمد حسن زوی (مړ، کابل ۱۹۰۶م) د امیر په دربار کې مجلس آرا یې کوله،خپل داستانونه به یې د پند او عبرت په اشعارو تمامول او امیر ته یې نصیحت کاوه او کله به یې د کاکه ګانو (عیارانو) قصې یا خندونکې پېښې عملاً تمثیل کولې.[1]

د کابل په زاړه ښار کې یوه محله وه، چې ((کوچهء سادوها)) یې بلله او دلته به دغسې قصه ګویان اوسېدل چې خلکو ((جنګ نامه خوانان)) هم بلل. له دغې ډلې څخه په شلم قرن کې ملا علي جان په ((ملای سپید)) مشهور و، چې پخپلو خبرو به یې خلك ژړول یا به یې خندول (مړ، کابل ۱۳۱۳ش ۱۹۳۴م) دده زوی ملا سخي دا د اولمسی یې اسدالله تر اوسه دغه پیشه ساتي. کاکه ګل بچه آدم،دینو داریاز، محی الدین سراج، سردار غیاث هم د کابل ممثلان وو.

ketabton.com - The Digital Library



ص) د اصحابو او يارانو (رض) داستانونه
ـکړې او تبرزين په ښورولو تمثيل کول او

ـم يو ((مجلس آرا)) درلود. دې سړي به
هلوانانو داستانونه، يوازې يا په ډله ييزه
ـې د شاهنامې داستانونه په حماسي لهجه
و په بنډارو او مېلو کې ځينې ممثلان
هغه ښار يا کلي په ژبه يې ځينې حماسي
ـي داستانونه، پخپله اداکارۍ خلکو تـه
ـشاوخوا کې د کابل فقيراحمد مجلس آرا
، کـابل ۱۹۰۶م) د امـير پـه دربـار کـې
ستانونه به يې د پند او عبرت په اشعارو
ـحت کاوه او کله بـه يې د کاکه ګـانو
ـ پېښې عملاً تمثيل کولې.[۱]
يوه محله وه، چې ((کوچهء سادوها)) يې
ګويـان اوسېدل چې خلکو ((جنګ نامه
ـې څخه په شلم قرن کې ملا علي جان په
ـې پخپلو خبرو به يې خلك ژړول يا به يې
ش ۱۹۳۴م) دده زوی ملا سـخي دا د
غه پيشه ساتي. کاکه ګل بچه آدم، دينو
سـردار غياث هم د کابـل ممثلان وو.



د شلمې سدۍ په لومړۍ نيمايي کې د قندهار دوې دا دا کارانو ډلې مشهورې وې، چې ناټکيان يې بلل. د يوې ډلې مشر فراموز ناټکي او د بلې دا حاجي کريم ناټکي و. دوی بـه د خپلو ډلو سره د ناټك متحرکې صحنې هم په بازارو کې د شپې را ايستې. ددغو ډلو نوموړي اعضا سنګر او موسی وو.

د کـابل د ښـار د ګذر ګذري يوه ډله ممثلان د ((سايين)) په نامه مشهور وو، چې لـه دغې ډلې څخه تر ۱۹۰۰م راوروسته ((سايين قناد)) او دده شاګردانو به دکابل دښاديو په بنډارو کې ځينې دعبرت ياخندا، يا تاريخي او پهلوانـي واقعې تمثيل کولې لکـه: د ديـو او پـري، د انګريـزانو سـره جـنګ، د افغانسـتان د قومي ډلـو اتحـاد، دعزيز او ممید داستانونه.[۲]

* * *

تـر ۱۹۲۰م راوروسته چې پـه وزارت معـارف کـې د ((نمايشـات عرفانـي)) اداره د مولـوي محمدحسين اورمړ جالـند هـري پـه رياست جوړه سوه، نـو بـه يې پـه ځينو مجلسو او جشنو کې د تمثيل صحنې جوړولې، چې لومړۍ پلا د ((سردار جزيرهء جاوا)) په نامه يوه ډرامه دجلال آبـاد د کوکـب په باغ او د لغمان په قلعه السراج کې په ۱۳۰۱ ش ۱۹۲۲ م وښيله سوه او بياد اسد په دوهمه ۱۳۰۲ ش ۱۹۲۳ م د استقلال پـه جشـن کـې دتـياتر صـحنه راووتـه، چـې ښېښـندويان (ادا کـاران) يـې د معـارفو شـاګردان يـا مـاموران وو لکـه: سـرور ګويـا اعـتمادي، عبدالعزيز ناصري. حافظ نور محمد، علي محمد، سرور

ketabton.com - The Digital Library



صبا، عبدالاحمد عطایي، میرزا عبدالله طویل، حسن جان ضیایي، محمد اکرم، میر کاظم هاشمي، مولوي غلام محمد معلم، فرخ افندي (مړ کابل ۱۳۵۶ ش ۱۹۷۷م) صاحبداد عکاس، عبدالجبار رسام، محمد حسین ضیایي، محمد سعید بدخشي، محمد آصف مایل، قاري دوست محمد، سید عبدالله، محمد کبیر ضیایي.

د ډرامو لیکونکي یا ترجمه کوونکي: فیض محمد زکریا، صلاح الدین سلجوقي، حسن سلیمي، بدري بیگ، علي افندي، ضیا همایون (هندي) حافظ نور محمد وو.

دوې نوې ډرامې لکه مادر وطن (دکاظم هاشمي پېښې) مسابقهٔ خواب و بیداري (د معارفو د شاگردانو پېښې) ۱۹۲۳م د پغمان د تمثیل په صحنه کې وښیلې سوې او بیا په ۱۹۲۴ م د پغمان په جشن کې د مجمع ملل او د مشرق د آزادئ خواهانو یوه ډرامه او بله ((صحبت های اخلاقی)) پر صحنه ښکاره سوې.

د ۱۳۰۴ ش ۱۹۲۵ م په جشن کې د ((بچهٔ بی پدر)) او ((تربیهٔ پدر)) او ((محاکمهٔ حکمرانان)) او ((فتح تهل)) او ((فتح اندلس)) (دعبدالحق حامد ترك لیك او د سلطان احمد شیرزوی ترجمه) ډرامې وښیلې سوې، څو چې په ۱۳۰۶ ش ۱۹۲۷ م د اوسنئ آریانا په لیسه کې د ((جهل را همینجا کشتند)) اود ((رفع حجاب)) او ((وصلت اجباري)) ډرامې هم تمثیل سوې. چې په اکثرو دغو صحنو کې دموسیقي ډایرکټوران استاد قاسم یا استاد غلام حسین ناتکي وو. (۳)

ketabton.com - The Digital Library



ـیرزا عبدالله طویل، حسن جان ضیایي،
ـتمي، مولوي غلام محمد معلم، فرخ
۱۹۷۷م) صاحبداد عکاس، عبدالجبار
ي، محمد سعید بدخشي، محمد آصف
ـید عبدالله، محمد کبیر ضیایي.
ـرجمه کوونکي: فیض محمد زکریا،
ـن سلیمي، بدري بیګ، علي افندي،
ـر محمد وو.
ـادر وطن (دکاظم هاشمي پېښې)
معارفو د شاګردانو پېښې) ۱۹۲۳م د
ـې وښیلې سوې او بیا په ۱۹۲۴ م د
ـ ملل او د مشرق د آزادۍ خواهانو یوه
ـلاقي)) پر صحنه ښکاره سوې.
ـ جشن کې د ((بچهء بی پدر)) او ((تربیهء
ـان)) او ((فتح تهل)) او ((فتح اندلس))
د سلطان احمد شیرزوی ترجمه) ډرامې
ـ ۱۳۰ ش ۱۹۲۷ م د اوسنۍ آریانا په
ـنجا کشتند)) اود ((رفع حجاب)) او
تمثیل سوې. چې په اکثرو دغو صحنو
ـتاد قاسم یا استاد غلام حسین ناټکي



په ۱۹۲۳ م د پغمان د ودانیو نظامنامه خپره سوه اود هغه ځای په عمومی باغ کې یوه ودانۍ د سینما تیاتر لپاره او د اولمپیك سر خلاصی جمنازیوم هم جوړ سو، چې دجشن د شپو لوړې یادې سوې ډرامې هلته ښکاره کېدې.

د افغانستان تر ارتجاعي اغتشاش وروسته دغه اقدامات د تمثیل د هنر لپاره سوي دي:

په ۱۳۳۴ ش ۱۹۵۵ م دسینما تیاتر او فلم لایحه خپره سوه.

په ۱۳۴۴ ش ۱۹۶۵ م د تیاتر د صحنې اساسنامه راووتله

په ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳م د ((افغان ننداري)) په نامه یوه تمثیلي او سینمایي موسسه، د یوې لویې نمایشي ودانۍ سره، دکابل د چمن په سیمه کې جوړه سوه، چې افغاني اداکاران ځینې داستانونه پکې تمثیلوي اود اولیت په لحاظ دغه ډرامې مشهورې دي:

((مکن همشیره ګریان)) دمحمد حیدر نیسان منظومه ډرامه ۱۳۱۵ ش ۱۹۳۶ م.

((متخصص صالون)) د رشید لطیفي لیك ۱۳۱۸ش ۱۹۳۹ م.

((مردان پارو پامیزاد)) د احمد علي کهزاد لیك ۱۳۱۸ ش ۱۹۳۹ م.

((عسکر جوان)) د محمد عثمان صدقي لیك ۱۳۱۸ ش ۱۹۳۹م.

((فرزندان آریانا او شاګرد کبابی)) دوې ډرامې د عبدالرحمن پژواك لیك ۱۳۱۹ ش ۱۹۴۰م.

((عاطفه او پولیس ۱۰۲)) دوې ډرامې د صدقي لیك ۱۳۲۲ ش ۱۹۴۳م.

((میراث او دو صنعت کار)) ډرامې د لطیفي لیك ۱۳۲۳ ش ۱۹۴۴م.

((داماد)) دناصر غرغښت لیك ۱۳۲۳ ش ۱۹۴۴م.

ketabton.com - The Digital Library



((کار بر اصل)) د عبدالروف بېنوا ليك ۱۳۲۳ ش ۱۹۴۴م.
((لالا ملنگ)) دعبدالغفور برېښنا ليك ۱۳۲۳ش ۱۹۴۴م.

ددې دورې مشهور پېښندويان (ممثلان) دا دي: عبدالرشيد جليا، عبدالحميد جليا، عبدالقيوم بې سد، عبداللطيف نشاط، محمد اکبر نادم، عبدالرحمن بينا، نيك محمد قايل، احمد ضيا، محمد اکرم نقاش، شکيب، مونس، محمد جان، محمد نعيم فرحان، عبدالقادر فرخ، حبيبه عسکر، خورشيد دجلاد لور، مزيده سرور دمحمد قاسم لور.

اوس د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې يو خاص د کلتور رياست هم سته، چې علاوه پرنورو هنري کارو د تمثيل هنر هم روزي او هر وخت په کابل او نورو ولاياتو کې په پښتو او دري ځينې ډرامې په صحنه کې خلکو ته ښيي.

## مآخذ:

(۱) بربښنا: قصه ها و افسانه ها ۷۷ کابل ۱۳۵۲ ش.
يا ورسکی: سفارت روسيهء تزاري بدربار امير شير علي خان ۵۳ کابل ۱۳۴۷ ش.
غلام حضرت کوشان: آريانا مجله شماره ۳۱۸ قوس ۱۳۵۵ ش کابل. هنر تمثيل در افغانستان ۸ د کابل چاپ ۱۳۵۸ ش. ابراهيم خليل: مزارات شهر کابل ۱۹۷ دکابل چاپ ۱۳۳۹ش. امان افغان، کابل ۱۲ اسد ۱۳۰۲ ش.
(۲) کوشان: هنر تمثيل تر ۱۳ مخ وروسته
(۳) هنر تمثيل ۶۰

ketabton.com - The Digital Library



ف بېنوا لیك ۱۳۲۳ ش ۱۹۴۴م.
برېښنالیك ۱۳۲۳ش ۱۹۴۴م.
ېسندویان (ممثلان) دا دي: عبدالرشید
یدالقیوم بې سد، عبداللطیف نشاط،
من بینا، نیك محمد قایل، احمد ضیا،
مونس، محمد جان، محمد نعیم فرحان،
ـکر، خورشید دجلاد لور، مزیده سرور

ـتور په وزارت کې یو خاص د کلتور
پرنورو هنري کارو د تمثیل هنر هم روزي
ولایاتو کې په پښتو او دري ځینې ډرامې

۷۷ کابل ۱۳۵۲ ش.
بدربار امیر شیر علي خان ۵۳ کابل ۱۳۴۷ ش.
ه شماره ۳۱۸ قوس ۱۳۵۵ ش کابل. هنر تمثیل
۱۳ ش. ابراهیم خلیل: مزارات شهر کابل ۱۹۷
، کابل ۱۲ اسد ۱۳۰۲ ش.
روسته.

## (۴)
# ساز و آواز، اتڼ

د موسیقی او ترنم په هنرکې هم افغانستان، د فرهنګونود سره ګډېدلوسیمه وه او په شلمه سدۍ کې موږ دلته د ساز و آواز او ټنګ ټکور، درې مهم عناصرتاکلای سوای:

**لومړی:** دخراسانی ساز و آواز راپاته سوي عناصر.

**دوهم:** د هندي موسیقي سره مشترك عناصر.

**دریم:** خپل مقامي د پښتو او دري او نورو لهجو عوامي بدلې او سازونه.

۱. د خراسان د موسیقي قدیم مقامات چې د غزنویانو او غوریانو او تیموریانو د عصر خلکو روزلي وو اود بیهقي په قول به ((مطرب اوقوال)) [۱] هغه په ساز و آواز کې سره را اوډل، تر اوسه لا هم لږ و ډېر په خلکو کې پاته دي. دغه مقامونه (راګونه) دوولس وو:

kitabton.com - The Digital Library



رهاوي، حسيني، راست، حجاز، بزرگ، کوچک، عراق، اصفهان،نوا، عشاق، زنګوله، بوسليک.

دغه هر مقام دوې شعبې (= راګني) درلودې، چې يوه به ځيره (پست) او بله ډېره (بلند) وه او ګرده شعبې چې د دغو دوولسو مقاماتو څخه جوړېدې (۲۴) دي او هره شعبه بيا نغمې لري او که د يوې شعبې ځير او د بلې شعبې ډېر سره ګډ سي، له هغه څخه ((آوازه)) جوړېږي. او دغه (۱۲) مقامونه او (۲۴) شعبې او (۶) آوازې خورا ډېرې ځانګې هم لري، چې دموسيقۍ په کتابو کې شرح سوې دي.

۲. د اسلامي دورې دخراسان او بيا د افغانستان سيمې شرقاً له هنده سره نښتې وې او له دې پلوه يې ډېرې مدني او کلتوري اغېزې منلې دي.

دهند آريايي خلکو خو د خپل زاړه آريايي تمدن په پوهنه کې د يوناني موسيقي کلمې پر ځای د سنګيت Sangita کلمه درلوده، چې د راګ RAGA او تال TALA او نريتيه Nritya يعنی مقام او اصول او رقص مجموعه وه او مهاديو (لوی معبود) يې د هغه واضع ګانه. ځکه چې دده نوم سميشور Somesvara (= شيوا) هم و، نو ګرده راګونه او راګني Ragini چې دده په هنري مکتب کې پاللې سوي و هغه يې سميشورمت S. Mata بلل او تر ده وروسته نور درې مکتبه هم را پيدا سوه، چې ګرده سنګيت څلور مکتبه لري.

په هندي ژبو کې آهنګ او نغمې ته سُر SUR وايي، چې ګرده اووه سُره دي:

ketabton.com - The Digital Library



ـت، حجـاز، بـزرګ، کوچـك، عـراق،
ـله، بوسليك.
عبې (= راګني) درلودې، چې يوه به ځيره
) وه او ګرده شعبې چې د دغو دوولسو
۲۱) دي او هره شعبه بيا نغمې لري او که د
ـ شعبې ډېر سره ګډ سي، له هغه څخه
(۱۲) مقامونه او (۲۴) شعبې او (۶) آوازې
ـي، چې دموسيقۍ په کتابو کې شرح سوي

ـسان او بيا د افغانستان سيمې شرقاً له
او له دې پلوه يې ډېرې مدني او کلتوري

ـو د خپل زاړه آريايي تمدن په پوهنه کې د
ـ ځای د سنګيت Sangita کلمه درلوده،
ـ TALA او نريتيه Nritya يعنی مقام او
وه او مهاديو (لوی معبود) يې د هغه واضع
ـميشور Somesvara (= شيوا) هم و، نو
Rag چې دده په هنري مکتب کې پاللي
ـمت S. Mata بلل او تر ده وروسته نور درې
ـ ګرده سنګيت څلور مکتبه لري.
ـنګ او نغمې ته سُر SUR وايي، چې ګرده



| | | |
|---|---|---|
| (۱) کهرج (سُر) | SUR, KHADJA | لکه د طاوس ږغ. |
| (۲) رکهب | RIKHBHA | لکه دپپيها ږغ (يوهندي مرغه) |
| (۳) ګندهار | GANDHARA | لکه د پسه ږغ |
| (۴) مدهم | MADHYAMA | لکه د کلنګ ږغ (يو مرغه) |
| (۵) پنچم | PANCHAMA | لکه دکوېل ږغ (يوهندي مرغه) |
| (۶) دهيوت | DHAIVATA | لکه د آس ششنی. |
| (۷) نکهاد | NISHADA | لکه د فيل ږغ |

له دغو اوونومو څخه يې لومړی توری را اخيستی دی:

((سو - ري - ګه - مه - په - ده - ني)) = سرګم.او دغه نوسپتك Saptaka يعني اووه اصله بولي، چې په ترتيب له اوله نری آواز (ځير) شروع کېږي او بيا په تدريج تر اوومه پورې جګېږي، چې درې ځير - منځنی - ډېر ږغونه يې ګرام Grama (اصل) دی.

هندي سنګيت د بهرته BHARATA په قول - چې په لومړۍ ميلادی سدۍ کې اوسېدئ او دده مکتب بهرته مت بولي - شپږ راګه RAGA (مقام) دئ، چې هر راګ پنځه راګني RAGINI (يعني ماينې) او اته پُتره PUTRA يعنی زامن او هر زوی يوه بهارجا BHARYA (ماينه) لري، او ګرده (۹۰) کېږی. شپږ راګه دادي: [۲]

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ بهيرون | Bhairon | ۱ راګ | + ۵ راګني | + ۸ پتر | + ۱ بهارجا | = | ۱۵ |
| ۲. مالکوس | Malakausa | // | // | // | // | | // |
| ۳ هندول | Hindola | // | // | // | // | | // |
| ۴. سري راګ | Sri Raga | // | // | // | // | | // |
| ۵ ميګهه راګ | Megh Raga | // | // | // | // | | // |
| ۶ ديپك راګ | Dipaka Raga | // | // | // | // | | // |

ټوله = ۹۰

kitabton.com - The Digital Library



پـه لـوړ ډول دمملکت پـه غـربي برخو کې خراساني سندرې او په شرقي پلو کې د پښتو سندرې له هندي راګونوسره ګډې ويلې کېدې. څو چې پـه شلمه پيړۍ کې په هند کې د اروپايي مدنيت او صنعت له خـپرېدلو سـره دګـرامافون او فلـم صـنعتونه رواج سـوه او د هـندي موسيقي سازونه (ټنګ ټکور) او ږغونه (راګونه) يې له لمر خاته څخه پـه ګرده افغانسـتان کـې خـپاره کـړل اوپـه افغانـي دربـارونو کـې هـم دهندي موسيقي راګونـو پـه فارسي يا پښتو ژبورواج وموند. مثلاً په ۱۸۸۱ م کـال چې امـير عبدالرحمن د کـابل د علم ګنج پـه بـاغ کـې دخـپلو زامـنو د سنتـۍ ښـادي جـوړه کـړې وه. ⁽³⁾ مولـوی احمـد جـان ((تاجـر)) قـندهاری ددې جشـن پـه توصـيفي قصـيده کـې دواړه ډلـې سازندګان يادوي:

يکطرف لوليان هندنژاد
جان فزا، ازترانهٔ شيرين...
يکطرف نغمه های ايرانی
داده دل راتسلی و تسکين..

د کـابل د خرابات او د قـندهار پـه توپخانه او مسليانو کې ځينې خاصې کورنۍ وې، چې د هندي موسيقي ويونکي او خپروونکي وو. لکه په کابل کې داستاد قاسم کورنۍ دهندي ساز استادان او استاد کـام الديـن او قربانعلي دخراسـاني موسيقي اسـتادان. او پـه قـندهار کـې دحکـيم کـاکو کورنـۍ او پـه پېښـور کـې دعـبدالقدير خـان ربابي‌کورنـۍ چې استـاد پذيرخان دده زوی مشـهور سرينده نـواز و. اسـتاد بهرام خان په طبله وهلوکې استاد. اکرم خان او سبز علي خان مشـهور سندر غاړي وو. د هرات حيدرو شش تار په تکره ګوتو واهه.

etabton.com - The Digital Library



پـه غـربی بـرخو کې خراسانی سندرې او په
دري له هندي راګونوسره ګډې ویلې کېدې.
ې په هند کې د اروپايي مدنيت او صنعت له
ن او فلـم صـنعتونه رواج سـوه او د هـندي
کور) او ږغونه (راګونه) يې له لمر خاته څخه
خپاره کړل اوپـه افغانـي دربـارونو کې هـم
په فارسي يا پښتو ژبورواج ووند. مثلاً په
عبدالرحمـن د کـابل د علـم ګنج پـه بـاغ کـې
ـادي جوړه کـړې وه . [۳] مولـوی احمـد جـان
حشـن پـه توصـيفي قصـيده کـې دواړه ډلـې

اد
ين...
انی
کين..

د قندهار پـه توپخانه او مسليانو کې ځيني
هندي موسيقي ويونکي او خپروونکي وو.
قاسم کورنی دهندي ساز استادان او استاد
خراسـاني موسيقي اسـتادان. او پـه قـندهار
ـی او پـه پېښـور کـې دعـبدالقدير خـان
پذيـرخان دده زوی مشـهور سـرينده نـواز و،
وهلوکي اسـتاد، اکرم خان او سبز علي خان
هرات حيدرو شش تار په تکړه ګوتو واهه.



## پښتو سندرې:

اساساً خو پـه پښـتو ژبـه کې درې هنري مظاهر: شعر او موسيقي او رقـص (اتـڼ) ډېر سره تړلي راغلي دي. د پښتو د عـوامي منظوماتو جوړښـت (سيسـتم) خو لـه قديمـه سيلابو ټونيك ؤ يعنـی شاعرانو به دخپـل نظم د ټوټو سيلاب او هجا Syllable + آهنګ يعنی تون Tone پـه لحـاظ يـو عروضـی سيسـتم درلـود. چـې دمـنظوماتو موزونيـت Rhythm او تقـارن Symmetry بـه يـې دمحـتوا او تـرنم پـه سـاتنه کـې خوندي کول. يعنـی شـاعر آزادو، چـې دخپـل نظم ټوټې دهجاوو د شمېر په لحـاظ داسـی سـره و اوډي، چـې وزن او هـم آهـنګ Tonic ولـری او پـه اتـڼ (رقص) کي لاهم د انساني بدن لـه ښکليو حرکاتو سره برابرې وي.

پـه پښـتو مـنظوماتو کـې د ظاهـري جوړښـت لـه پلـوه تـر اوسـه لـه څلورو هجـاوو څخه بيا تر شل سيلابي ټوټو (مسريو) پـوري اوولس (۱۷) بحـرونه ضـبط سـوي دي، چـې لـه دغـو څخـه تقريباً سل وزنه د آهـنګ او تـرنم پـه لحاظ را ايسـتل کېږی، [۴] او بنايي چې په سوو نور وزنونـه پـه پښـتو سيلابو تونيك سيستم کې وي، چې تر اوسه په بشپړه توګه لانه وي سره راټول سوي.

پـه پښـتو عـامی سـندرو کـې چې تراوسه ښېخی لړ تر ليك و چاپ لاندې راغلي دي: بدلـه، کسرواله سپره بدلـه، لوبه (بګتـی)، چاربيتـه، نـيمکی (سـروکی) رباعـي، نـاره، لـنډۍ (ټـپه) تـرانه، غـاړه، ږغ ګـرده شمېرلي هجاوې او آهنګونه لري، چې د موسيقی له ټاکلو ږغونو او کله د اتڼ له خاصو حرکتونو سره سم وي.

ketabton.com - The Digital Library



د اتڼ اقسام ګرده دموسيقي له لارو سره اړخ لګوي، او موزونې د ((اتـڼ نـارې)) لـري. نـو يـوه ټوټـه چـې هـم وزن لـري او هـم آهـنګ، ((ځابښني)) يا ((لاره)) يا ((رږغ)) يا ((شان)) بولي.

کله کله ((سپرې بدلې)) هم په خاصو خپلو آهنګونو په دسته جمعي ډول ويلې کېږي او د هرې بدلې مسرۍ (ټوټه) يو سرۍ په خواږه رږغ وايي، چې يوه مسرۍ خلاسه سي، نو يې کسر ګرده په ګډه تکرار وي.

د ښځو ايشـله يوه ښځه کله د آهنګي نارو سره کوي او کله د نرو د اتـڼ نـارې يـو سرۍ پـه لـوړ خواږه رږغ وايـي.د نقلو او قصو، عشقي ياحماسـي نـارې هـم وزن او آهـنګ لـري، چـې قصـه کوونکـي يـې د قصـې د نـثري بـرخې پـه مـنځ کـې پـر خـپلو ځـايو بـاندې پـه موزونـو آهنګي غاړو لولي.

## اتڼونه:

اتـڼ هغـه فـردي يـا دسـته جمعـي د بـدن مرتـب او ښکلي حرکات دي، چـې پـه عربـي رقـص او پـه انګريـزي ډانـس Dance ورتـه وايـي. ځينې پښتانه دنرو اتڼ (ګډا) او د ښځو دا (نڅا) بولي، چې په کندهار کې د ښځو اتڼ ته ((ايشله Ishala)) وايي.د پښتونخوا په ځينې سيمو او د روب پـه ناوه کې کله کله د نرو او ښځو اتڼ په ګډه کېږي، چې پـه کـاکړو کـې يـې ((کمـره امـۍ)) يا ګډه امۍ يا برګه امۍ او نور پښتـانه يې ((برګ اتڼ)) بولي.

د اتـڼ راز راز حرکـتونه، سوکه سـوکه - يـاژر - ژر اوښـتونه،د لاسو، سر ،اوږو ، ملا او پښو ښوروني ټول د اتڼ ډولونه سره بېلوي، لکه:

ketabton.com - The Digital Library



شالکی: د پښتین اوړوب په ناوه کې، ورو ورو دوه قدمه پر مخ او دوه پر شا، چې کله غلئ اتڼ هم بلل کېږي.

د یوې اوږې اتڼ = یو اړخه اتڼ: په شالکی شروع کېږي، بیا ورووړو چټک سی.

د غبرګو اوږو اتڼ = دوه اړخه اتڼ: د یوې اوږې اتڼ په پای کې، دغه ډېرې تودې او خورا چټکې ښوربدنې دي او ډم هم خپل ډول په خورا درزا ژر ژر ورسره ډمبوي.

شاپاتري: د ړوب د خلکو اتڼ دئ، چې بې ډوله او سورنا، تشې غاړې پکې ویلې کېږي.

شین اتڼ: د کاکړو په سیمو کې بې ډوله او سورنا خورا چټک اتڼ، چې ورو ورو له شالکې څخه شروع سي، بیادخورا مستۍ عروج او د غبرګو اوږو اتڼ ته ورسېږي.

برګ اتڼ = ګډه امۍ = کمره امۍ: د ښځو او نرو ګډ اتڼ دئ، چې لکه شین اتڼ سوکه شروع سي، بیا نود مستۍ او غورځنګ لوړې څوکې ته ورسېږي.

طالبي اتڼ: بې ډوله او سورنا تش په غړږي او غومبر سره د طالبانو په بنډار کې اچول کېږي، چې یو بیرغ یې هم په منځ کې وي. درې قدمه پر شا او مخ ځي، ورو - ورو تودېږي.

درې پلۍ: د کندهار او پښین ترمنځ رواج لري درې درې پله له ډاله او نارو سره کېږي.

له پښینه تر هرنایي د پښتونخوا په جنوبي سیمو کې څو ډوله اتڼونه سته چې لبه LBA یا لوبه یې بولی لکه:

ketabton.com - The Digital Library



خوره لبه: د هرنايي د ترينانو دوه قدمه ورو بې ډوله او سورنا اتڼ.

هوم لبه: دوه قدمه سوکه اتڼ د بدلو سره.

اړو يا لبه: د هرنايي د ترينانو اتڼ د نارو سره.

خورکۍ لبه: د هرنايي د ښځو لږ چټك اتڼ د بدلو سره.

دومړي لبه: د کاکړو د سنزر خيلو اتڼ، د ډول او سريندې يا چغکې سره.

ايشله: په کندهارکې د ښځو خاص اتڼ دئ، چې يوه يوه ښځه له جمعيته راوزي او په منځ کې رقص کوي، کله کله لنډۍ او کله د اتڼ غاړې او کله فکاهي خبرې ورسره وايي او که دغه اتڼ په ګډه ښځې وکي نو يې په جنوبي پښتونخوا کې شله Shila بولي.

ګلوبيا: دجنوبي پښتونخواد ښځو اتڼ د دريې او کسرونو او ټوکو سره.

دمنګي اتڼ: کله چې کليوالې نجلۍ منګی ګودر ته وړي، نوبه ګډه ورو ورو اتڼ کوي او منګي ته راز راز حرکتونه ورکوي، عاشقانه لنډۍ وايي، او مستې نارې کوي.

د اتڼ د سرود آلات ډول، سورنا، سرينده، دريه، شپېلۍ، چغکه دي او کله کله د لاسو پړك يا د ټوپك ډز يا چك چکې هم ښه برخه پکې لري.ډول وهونکۍ ډم يا ډولچي د سورنا وهونکۍ سورنا چي بولي، چې ډم د ډول په ږغ ګرده اتڼ اداره کوي. هغه څوك چې اتڼ کوي، اتڼ چي، اتڼ باس، ناڅګر، رخخي بلل کېږي، چې د ځوانانو ځنې غوړې او خپرې وي. کميس او پرتوګ اغوندي، ملا په رنګه دسمال تړي، په لاسو کې يې رنګه دسملونه وي. ښځې چې ايشله

ketabton.com - The Digital Library



کوي، سپك پړونۍ او فاخر کالي اغوندي او کله پایزیب هم په پښو کوي او هر اتڼ یو((میر)) هم لري، چې اتڼ چیانو ته بولي ورکوي.(۵)

د اتڼ سندرې عموماً عشقي، حماسي، فکاهي او کله تاریخي یا طنزي وي چې د پښتو د شفاهي ادب یوه ارزښتمنه پانګه ده.

* * *

په دې اوسني وختو کې د سندر غاړو دوې ډلې په افغانستان کې سته او کله چې راډیو په ۱۳۱۹ش ۱۹۴۰ م او بیا افغان ننداري په ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳ م او بیا تلویزیون په ۱۳۵۷ ش ۱۹۷۸ م شروع سول، نو دغو دوو ډلو ښه ووده کړې ده، چې لږ و ډېر یې موسیقي ته له هندي ډوله څخه مقامي رنګ ورکړئ دئ:

لومړی: پیشه کار سندر غاړي چې هندي راګونه یامقامي سندرې په دري ژبه یا پښتو لولي، او مشهور یې استاد قاسم (۱۸۸۴، ۱۹۵۶م) استاد غلام حسین د عطا حسین زوی (۱۸۸۶، ۱۹۶۸م) نبي ګل (مړ کابل ۱۳۵۰ش ۱۹۷۱ م) غلام دستګیر شیدا (مړ کابل ۱۳۴۹ ش ۱۹۷۰) د قندهار کریم کاکو (د ۱۹۳۵ م حدود) د مردان صحبت خان (مړ ۱۹۴۲ م) استاد نتهو (ژوندی) استاد سر آهنګ محمد حسین (ژوندی). استاد دُری لوګری، استاد محمد عمر (مړ ۱۳۵۹ ش) او استاد محمد اکرم (ربابیان)، غلام حسن تیراوال سرینده وهونکی، فقیر حسن وایلن وهونکی، د قندهار سلیم، دخوست میر سلام، جلیل ځلاند، حفیظ الله خیال، رحیم غمزده، اول میر، هم آهنګ، قمرګله، رحیم بخش، سارا ځلاند، خان قره باغی.

ketabton.com - The Digital Library



کله کله افغاني هنرمندان په فني ډګر کې د ونې پر مخ تللي دي، چې دهند په موسیقي کې هم په استادی منل سوي دي، مثلاً غلام بندګي خان بنګښ چې رباب یې دسرود په ډول راواړاوه (د ۱۸۵۰ م حدود) او دده زوی غلام علي خان او لمسی حافظ علي خان هم مشهور سرود نوازان وو[۶]

دغسی هم دکشمیر یو خوانده چې ستارجو نومېدئ، د ۱۸۸۰م په حدودو کې کابل ته راغی، د ده زوی استاد قاسم جو د کابل په خرابات کې په ۱۳۰۲ ق ۱۸۸۴ م وزیږېدئ او دموسیقي په هنر کې د ونې استاد سو، چې هندي موسیقي یې د افغاني مقامي لارو سره ګډه کړئ اویو خاص طرز یې راو ایستئ چې په کابل کې په ((طرز قاسم)) مشهوردی. ده موسیقي له ادب سره نښلولئ دئ او له فارسي اشعارو څخه به یې پر موقع داسې بیتونه د موسیقي په پردو کې ویل، چې حسب الحال به وو. استاد قاسم ډېر شاګردان په دې طرز کې وروزل اود کابل دپنځو شاهانو د دربار خوانده و (وفات، کابل ۲۲ سنبله ۱۳۳۵ ش ۱۹۵۶ م) دده زوی استاد یعقوب قاسمي د خپل پلار د طرز مروج و او اوس استاد محمد حسین سر آهنګ د استاد غلام حسین زوی په هندي موسیقي کې استاد ګڼل کېږي.

دوهم: شوقي سندر غاړي، چې مشهور یې میرزا نظر (د ۱۹۲۹ م حدود) استاد عبدالغفور بریښنا (مړ، کابل ۱۹۷۳ م) ډاکټر صادق فطرت (ناشناس)، کریم هراتي، احمد ظاهر لغماني، ساربان، نی نواز زکریا، شاه ولي، احمد ولي، ارمان، ظاهر هویدا، مهوش، هنګامه، سیما ترانه، احمد مرید او نور.

ketabton.com - The Digital Library



ان په فني ډګر کې د ونې پر مخ تللي دي،
هم په استادۍ منل سوي دي، مثلاً غلام
اب يې دسرود په ډول راواړاوه (د ۱۸۵۰ م
لي خان او لمسی حافظ علي خان هم

خوانده چې ستارجو نومېدئ، د ۱۸۸۰م
غی، د ده زوی استاد قاسم جو د کابل په
۱۸۸۴ م وزيرېدئ او دموسيقي په هنر کې
دي موسيقي يې د افغاني مقامي لارو سره
يې راو ايستئ چې په کابل کې په ((طرز
وسيقي لـه ادب سـره نښلولـئ دئ او لـه
پر موقع داسې بيتونه د موسيقي په پردو
ال به وو. استاد قاسم ډېر شاګردان په دې
دپنځو شاهانو د دربار خوانده و (وفات،
۱۹۵۶ م) دده زوی استاد يعقوب قاسمي
و او اوس استاد محمد حسين سر آهنګ د
هندي موسيقي کې استاد ګنپل کېږي.
غاړي، چې مشهور يې ميرزا نظر (د ۱۹۲۹
ر بريښنا (مړ، کابل ۱۹۷۳ م) ډاکټر صادق
هراتي، احمد ظاهر لغماني، ساربان، نی
احمد ولي، ارمان، ظاهر هويدا، مهوش،
مد مريد او نور.



## دموسيقی آلات:

د افغانستان د شلمی سدۍ په ساز و آواز کې دغه آلات مستعمل دي، چې اکثر له پخوا څخه را پاته دي:

۱. ضربي: لکه ډول، ډولکی، ډومبکی (زير بغلي) دريه (داريال يا چنبه) ډمامه، دوپړۍ (طبله) تُمبل، نغاره، منګی او ټيم وهل.
۲. نفسي (ساهي): لکه نل (نی)، شپېلۍ (نای)، تولـه، تولکه، سورنا، ښکر، کرنا، دروئ، بين، باجه، تورۍ (لکه شپېلۍ) تروم، بوغۍ (بوق) تيمچه، مشکی، باجه، ارمونيه، مورلۍ.
۳. اوتار (اهتزازي): لکه رباب، تنبور، غږکه (غچك)، سارنګۍ، چنګ، دلربا، دنبوره (دوتار) سنتور،ستار، سرينده.

### مآخذ:


(۱) تاريخ بيهقی ۸۰ د مشهد چاپ ۱۳۵۰ ش.
(۲) تحفة البهادر/ ۳۲۲، ۳۲۵، ۳۹۶، طبع بنياد فرهنګ ايران. غياث ۳۶۹.
(۳) فيض محمد: سراج التواريخ ۳۹۲/۳ دکابل چاپ ۱۳۳۳ ق.
(۴) پوهاند عبدالشکور رشاد: د پښتو نظم عروضي سيستم (خطي)
(۵) سيال کاکړ: فولکلوري سوغات: د کوټې چاپ ۱۹۷۸ م. کاکړۍ د کوټې چاپ ۱۹۷۳.
غلام محی الدين ملګری: پښتني اتڼونه د کابل چاپ ۱۳۵۲ ش.
حبيب الله رفيع: دخلکو سندرې، د کابل چاپ ۱۳۴۹ ش.
(۶) نعيم کوثر: د ډهلي د آجکل مجله، اګست ۱۹۵۶م.

ketabton.com - The Digital Library

## (۵)

# ودانۍ او معماري

د منځنۍ آسیاد معمارۍ فن له لسمی سدۍ څخه بیا د هرات د تیموریانو تر وختو پورې خورا غوړېدلئ و، چې نمونې یې د غزني او جام او دهرات منارې او نورې ودانۍ دي. د اتلسمی سدۍ په منځ کې چې احمد شاه دراني بیا د افغانستان سره شلېدلې لمن راغونډه کړه نو بیا د ودانۍ فن لږو ډېر وغوړېدئ او دلته مونږ وینو، چې د کابل او قندهار او هرات د معمارانو کورنیوخپله هنر نمایی بیا په ودانیو کې ښکاره کړې ده او درې د معمارۍ ډولونه پکښې لیدل کېږي:

لومړی: د خراسان قدیم سبك چې دهرات د تیموریانو په عصر (شپاړسمه پیړۍ) کې تکمیل سوئ و.

دوهم: د مقامي کلاوو او برجونو ښکلې ودانۍ چې مواد یې خاورې او ډبرې وې.

ketabton.com - The Digital Library

(۵)

## ...ۍ او معماري

...اری فن له لسمې سدۍ څخه بیا د هرات د
...خورا غوړېدلئ و، چې نمونې یې د غزني او
...نورې ودانۍ دي. د اتلسمې سدۍ په منځ
...بیا د افغانستان سره شلېدلې لمن راغونډه
...ډېر وغوړېدئ او دلته موږ وینو، چې د کابل
...ژرانو کورنیوخپله هنر نمایی بیا په ودانیو کې
...معمارۍ ډولونه پکښې لیدل کېږي:
...یم سبك چې دهرات د تیموریانو په عصر
...یل سوئ و.
...وو او برجونو ښکلې ودانۍ چې مواد یې



دریم: دهند داسلامي سلطنت او مغولي شاهانو د ودانیو اثر چې (خراساني + هندي) سبك یې ګټلای سو.

ددغو معماري ډولونو په ودانیو کې اکثر پخه خښته، اومه خښته، ګچ، تیږه، اهاك، سارو، خاوره او دای استعمالېده او د اقلیمي او اجتماعي اوضاعو په لحاظ یې غټ او پلن او جګ دېوالونه او په کابل کې د لرګو ودانۍ، خوپه نورو ځایو کې د پخو یا اومو خښتو پوښښونه او زربې جوړېدې. د کابل په ګرده سیمه کې د لرګو سره نښتې ودانۍ د لرګي د تزئیناتو سره رواج وې، خو دکندهار د پخو خښتو پوښښ چې په ګچو سره نښلول کېږي، تر اوسه ژوندي دئ. په هرات او شمالي سیمو کې د اومو خښتو دزربې پوښښونه له اقلیمي اوضاعو سره مقاومت کولای سي او دکابل او هندوکش په سیمو کې چې زلزلې پېښېږي، عمومي ودانۍ له لرګوڅخه جوړېږي.

د ودانیو دننه دېوالونه او چتونه په سپینوګچو یا رنګه ګلکاریو او تصاویرو ښکلي کېدل، د کندهارد ګچو نقاشي او هندسي شکلونه او ډول ډول ګلکارۍ ډېرې نفیسې وې، دهرات دمقرنس سازۍ کار، د قدیم نفیس هنر نمایندګي کوله، د غزني نقاشانو د کابل د سیمو د ودانیو چتونه او دیوالونه په ښکلي رنګ او ډول انځور ول او کله کله به ښیښه کاري هم پکښې کېده اوسپین ګچي دېوالونه به په طلا یا د طلق په ټوټو افشان کېدل.

لکه چې دمخه وویل سوه، د کلیو کلاوې به د پخو ختو څخه په دای (پخسه) داسې ټینګې او ښکلې ودانېدې، چې په سدیو به یې د

ketabton.com - The Digital Library



باران، واورې او نـورو طبيعـي آفاتو، سيلو او زلزلو سره مقابله کوله او نړول بـه يـې خورا ګران کـار و، ختـه يـې داسې پخوله، چې اول به يې يومن وچه خاوره له اوبو سره ګډه کړه، بيا به يې دونې سره واړوله او تر پښو لاندې به يې پخه کړه، چې بيرته به يې تول هغه يو من و.

پـه کـابل کې د اتلسـم قـرن پـه آخرو کې د قندهار د معمارانو يوه مشـهوره کورنـۍ راغلې وه، چې مشرېې محمد ياسين معمار و،[۱] لـه دوی څخه په کندهار کې د احمدشاه دراني ګنبده او د چارسو لويه ګنبده او د کـندهار د شـاه جـامع او د خرقې شريفې ګنبده او جامع او زړه جـامع اودمـير هـزار جـامع عمارتونـه او پـه نونسـم قـرن کـې د کهـندلخان جـامع پاتـه دي او کله چې کابل ته راغله، دلته يې د کابل د بـالاحصـار کـلاوې بـيا جـوړې کـړې، دتيمورشـاه ګنـبده اود تمـيم انصـار اوعاشـقان و عـارفـان زړې ودانـۍ هـم ددوی پـه لاس جـوړې سوې، د بـاغ بـالا اوارګ ځينې ودانۍ، دجلال آباد د حکومتي باغ او د خلم د بـاغ جهـان نمـا او د کـندهار د منزلباغ او کوکران ودانۍ هم ددغه هنر نمونې دي.

پـه شـلم قـرن کـې ددې کورنـۍ معمـاران محمـد يعقـوب خـان، عبدالصمدخان، غلام علي خان، عبدالله خان او په کندهار کې استاد يـار محمـد خـان او نعـيم جـان وو، چې د مـيرويس بـابـا ګنـبده يـې پـه ۱۹۳۰ م جوړه کړه.

(۱) عزيزالدين وکيلي: تيمورشاه ۴۹۷/۲ کابل چاپ ۱۳۴۶ش.

ketabton.com - The Digital Library

# (۶)
# د کاليو صنعت

د نونسم قرن تر نيمايي پورې د افغانستان د خلکو کالي، دخپلو لاسو جوړ کړي کالي وو، چې له سپنسيو او اينخيو يا ورېښمو څخه به اودل کېده لکه: کرباس، الچه، پټو، شوی، کېش، قاقمه، کُرك، برکه، ورېښمينه نرمه، دسمالونه،کلاغی، قناويز، لونګی، بشرويه او نور...

ددغو لاسي صنايعو مرکزونه هرات، فراه، هلمند، کابل، ننګرهار، لغمان او د شمالی سيمو کلي او ښارونه وو، خو کله چې په دغو وختو کې دهند او روس له پلوه دماشيني مصنوعاتو تجارت شروع سو، نو په ورو ورو دغه لاسي داخلي مصنوعات لږ يا ورك سول، دهرات او کابل د ورېښمينو او وړينو کالو او پټوانو

ketabton.com - The Digital Library



دستګاهونه وتړل سوه، د نخي توکرانو او کرباسو صنعت مړ سو، فقط په شمالي ولاياتو کې لاتر اوسه هم فقط د چپنو لپاره د ورېښميني يا نخي الچې جوړولو صنعت ژوندی دئ او په داخلي ماشيني برقي کارخانو کې د اغوستلو توکران دوني اودل کېږي، چې د لاسي نساجۍ، نفيس صنعت يې نابود کړئ دئ.

د غزني او کابل او نورو سړوسيمو د پوستين دوزۍ صنعت تر اوسه پاته دئ،چې د پسونو ياد قره قل يا ګيدړې او خفك له پوستو څخه ډېر نفيس پوستينونه او پوستينچې، دسکلې، جورابې يا خولۍ جوړېږي. او د ستني په ورېښمو ګنډلو ګل کاريو ښکلي کېږي. (۱)

پر کاليو باندی د قندهار د خامك دوزۍ ورېښمين نقشونه او ګلونه يا د خوليو زريني او د ګلابتونو ګلکارۍ د لاسي صنايعو يوه نفيسه څانګه ده، چې تر اوسه لاهم ژوندۍ پاته ده.

د کراستې څخه نفيس کوسي او کوچۍ هم په هلمند، فراه، سيستان، قندهار، غور او نورو سړو سيمو کې د اغوستلو لپاره جوړيږي او د ژمي دبالاپوښ کار ورکوي. د کابل د پشمي پټو ګانو صنعت د ونې نفيس و، چې په ماشيني وسايلو يې هم اوس هغسې جوړونه ګرانه ده. دې پټو ګانو به تور، سپين او شکري رنګونه درلودل او خورا سپك او تاوده وو.

---

(۱) آريانا دايره المعارف ۳/ ۲۳۷۰ دکابل چاپ ۱۹۵۶ م.

ketabton.com - The Digital Library

# (۷)
# مفروشات

د ډول ډول رنګه اوساده مفروشاتو جوړونه د افغانستان دخلکو یو قدیم صنعت دی، چې په شلمه پیړۍ کې هم ژوندی پاته دی، داخلي او خارجي بازار لري.

## ۱- غالۍ اودل:

چې د هندوکش په شمالي ولایاتو کې له بدخشانه تر میمنې او هراته، خورا نفیسې او پنډې تینګې د پایښت وړ رنګینې غالۍ جوړېږي او اوس لویې او کوچنۍ خارج ته هم صادرېږي، دجوړولو مواد یې سپنسي، اورته، وړۍ او مختلف نباتي او معدني رنګونه دي. مشهور انواع یې مورۍ، قزل ایاقۍ،آقچه یې، هراتۍ دی. اکثر یې ښځې اوبي.

ketabton.com - The Digital Library



## ۲- کمبلې او ټغرونه:

دا صنعت هم لـه پخوا څخه ژوندی پاتـه دی، رنګینې کمبلې او ټغرونه له سپڼسیو او اینخیو څخه اوبي، اکثر یې په هندسي او لوزي انځورونـو ښکلـي کېږي، چـې لـوی مرکـز یـې د افغانسـتان مرکـزي یاشـمالي سـیمې دي، هغسـې خـو نـو هـرڅوك دخپـل احتـیاج لـپاره کمبلې او ټغرونه ځانته جوړوي.

## ۳- کراسته:

دا هـم لـه وړیـو څخـه بـې لـه اودنـې پـه خاصـه توګـه او مښلـو او لندولو داسې جوړوي، چې وړې پخپله سره ننښلي او د باندې رنګینې یـا سـاده ګـل کـارۍ پـرې کـوي، دسړوسیمو لـپاره دېـر ښـه فـرش ځنې جـوړوي او کله چې لـه پت څخـه جوړه سـي، نـو خورا نفیسه او پسته وي. پــه بدخشــان، هلمــند، فــراه، او کــندهار کــې ښــې کراســتې جوړېږي، چې کله خارج ته هم صادرېږي.

د کندهار دکراستو د توشکانو صنعت دېرش کاله پخوا لاژوندی وُ، چې د خونـو د ژمـي د فـرش لـپاره بـه یـې یـو راز سـپین مـنقش او ډولـي توشـکان پـه خـورا ښکلو رنګو جوړوله او خـاص صنعت کاران یې لرل.

ketabton.com - The Digital Library

# (۸)
# سنګتراشي او حکاکي

د ډبرو تراشلو هنر له قدیمه په افغانستان کې و، ځکه چې ددې سیمې غرونه او کانونه هر راز ښکلې او قیمتي ډبرې لري. د غزني د سپین مرمر ښکلې نمونې تر اوسه لاهم پاته دي. د هرات د تورې ډبرې صنعت او پر دغو ډبرو رازراز نقشونه او لیکونه، د ګازرګاه د ځینو قبرو پر شنختو باندې دسنګتراشۍ او خطاطۍ بهترین او نادرالمثاله بقایا دي.

په شمله سدۍ کې هم دغه صنعت لړو ډېر ژوندی و، په کندهارکې د سپینومرمرو او د شاه مقصود دژیړو نفیسو ډبرو کار، خاص بازار درلود او تر اوسه لاهم دا صنعت پاته دئ. د کابل، غزني، هرات، کندهار، بلخ، پر ځینو راپاتو شنختو باندې په ښکلي خط او

ketabton.com - The Digital Library



ګل کاري سپين ياتور مرمر داسې ښکلي سوي دي، چې هره شنخته يې دهنر يوه ښکلې او نفيسه خوش نمايه نخښه ده.

په دغو انځوروسوو ښويو او رنګينو ډبرو به د ودانيو دننه او دباندې دېوالونه هم ښکلي کېدل. د کندهار د شاه مقصود دژيړې ډبرې د مشهور کان تسبيح خو په آسيا کې شهرت درلود. مساجد او منبرونه، د ماڼيو د دېوالو لاندې برخې او ششکونه او دروازې به د سپين مرمر څخه جوړېدلې، چې نمونې يې د کندهار او کابل او هرات د شلمې سدۍ په ودانيو کې تر اوسه خوندي او د خط اونقاشۍ دښکلا په لحاظ د ليدلو وړ دي او دکندهار د سنګتراشانو دکانونه په شلم قرن کې د ((حکاکانو بازار)) نومېدئ.

په دې وروستو کلو کې دماشيني سنګتراشۍ ځېنې فابريکې چې په بريښنا چلېږي هم جوړې سوې دي، چې له هغو څخه د کابل د خواجه ملا دحجارۍ فابريکه مشهوره ده [1]

په لښکرګاه کې هم دګرم سېر د مرمرو له کانه څخه ښکلې ډبرې د ودانيو لپاره تيارېږي.

---

(۱) آريانا دايرة المعارف ۳ ۲۳۶۶

ketabton.com - The Digital Library



مرمر داسې ښکلي سوي دي، چې هره شنخته
ـيسه خوش نمايه نخښه ده.
و ښويو او رنګينو ډبرو به د ودانيو دننه او
ـكلي كېدل. د كندهار د شاه مقصود دژيړې
ـبيح خو په آسيا كې شهرت درلود. مساجد او
ـالو لاندې برخې او ششكونه او دروازې به د
ـيدلې، چې نمونې يې د كندهار او كابل او
ـودانيو كې تر اوسه خوندي او د خط اونقاشۍ
ـلو وړ دي او دكندهار د سنګتراشانو دكانونه
ـكانو بازار)) نومېدئ.

ـ كې دماشيني سنګتراشۍ ځينې فابريكې
ـم جوړې سوې دي، چې له هغو څخه د كابل د
ـريكه مشهوره ده [1]

ـ دګرم سېر د مرمرو له كانه څخه ښكلې ډبرې

۲۳۶۶

# (۹)
# مسګري او آهنګري

دخراسان په ښاري مركزونو لكه هرات، كندهار، بلخ، كابل كې دمسو او اوسپنې د كار كوونكو (پېښانو) خاص بازارونه او دكانونه وو، چې دوى به دمسو يا ژېړو څخه خورا ښكلي لوښي لكه ګړوه، چلم، چلمچي،كاسې، څراغونه، پيتونسې، مجمې، د چايو لوښي، دېګونه او ښانكونه جوړول، پر دغو لوښو به يې ظريفه نقاشي او قلم كاري كوله، چې په خاصه توګه د غزني او هرات او كندهار او بدخشان مسګري مشهوره وه او تر اوسه لا هم په كابل كې د آهنګرۍ او مسګرۍ بازارونه له اتلسمې سدۍ څخه راپاته دي.

د اوسپنې څخه هم د كرنې مصنوعي آلات لكه يوم، كهې، تبش، نالونه، كولپونه، زنځير، چاړه، كلنګ او نور جنګي اسباب لكه

ketabton.com - The Digital Library



توپ، زنبورك، نېزه، توره، خنجر او ځېني د ژوندانه ضروريات او د پخلنګك لوښي جوړېدل او دې هنرونو نوموړي استادان درلودل، چې اوس د خارجي اوماشيني مصنوعاتو سره مقابله نسي كولای او لږ لږ وركېږي.

تر اوسه لاهم په چاريكار اود لغمان په تيګري كې د اوسپنې او فولادو ځخه په لاس داسې صيقل سوي چړې او چاكوګان جوړېږي چې له ماشيني مصنوعاتو سره سيالي كوي.

د شلمې پېړۍ په سركې د استاد پاينده خان تبر د آهنګر باشي په نامه په كابل كې د سركاري وسلې جوړولو د اوسپنې دكار خانې مشران وو او استاد محمد عظيم يې د ۱۹۰۰ م په شاوخواكې مشر استاد و. (۱)

(۱) وكيلي: تيمورشاه ۷۲۲/۲.

ketabton.com - The Digital Library



ـره، خنجر او ځېنې د ژوندانه ضروريات او د
او دې هنرونو نوموړي استادان درلودل، چې
ي مصنوعاتو سره مقابله نسي کولای او لږ لږ

ړيکار اود لغمان په تيګري کې د اوسپنې او
سې صيقل سوي چړې او چاکوګان جوړېږي
و سره سيالي کوي.
ـکې د استاد پاينده خان تېر د آهنګر باشي په
کاري وسلې جوړولو د اوسپنې دکار خانې
مد عظيم يې د ۱۹۰۰ م په شاوخواکې مشر

.٧

## (۱۰)
# تر کاڼي (نجاري)

په هغو سيمو کې چې لرګي او ځنګلونه او د جوز ونې يا دتوت ښه لرګي ډير وو لکه کابل، کونړ، بدخشان، نورستان، پښتيا، غزنی هلته د نجارۍ صنعت هم له قديمه پاته و، له لرګو څخه منقش د لاس لرګي، لکړې، صندوخان، دروازې، ښانکونه او په کافرستان کې د بوتانو مجسمې او نور د ژوندانه ضروريات جوړېدل. پخپله په لرګي کې ګلکارۍ او شبکه کارۍ او برجسته يا کيندلې نقاشي کېده، چې کله کله به يې د انساني ژوند مختلف مناظر هم پکښې انځور کول.

طبيعي ښکلا وې او د مرغانو او حيواناتو شکلونه به پکښې مصور کېدل او د لرګو د شبکه کارۍ او رنګ کولو صنعت په ښه ډول ژوندی و او اوس هم د ودانيو د چتو د مسطح سازۍ او ښکلولو

ketabton.com - The Digital Library



صنعت لږ و ډېر پاته دئ او په کابل کې يوه د ترکاڼۍ لويه موسسه او کارخانه سته، چې په ماشيني وسايلو کار کوي.

په ځينو پخوانيوودانيوکې چې د لرګو هنري آثار پاته دي، هغه دا ښکاره کوي، چې په لرګو کې نقاشي اوليکني او ښکلونې رواج درلود او د دې هنر يوه پاته نخښه د بدخشان په يمګان کې د ناصر خسرو قباديانې دمرقد د سقف په نسخ خط ليکلي د قرآن شريف آيتونه دي.

بله لرغونې نخښه يې هغه دروازه ده، چې د لوګر د څرخ په يوه مسجد کې پرته وه او د غزنوي دورې کوفي خطونه او نقشونه يې لرل.

ketabton.com - The Digital Library



دئ او په کابل کې يوه د ترکاڼۍ لويه موسسه او
ماشيني وسايلو کار کوي.
دانيوکې چې د لرګو هنري آثار پاته دي، هغه دا
ه لرګو کې نقاشي اوليکنې او ښکلونې رواج
وه پاته نخښه د بدخشان په يمګان کې د ناصر
قد د سقف په نسخ خط ليکلي د قرآن شريف

خښه يې هغه دروازه ده، چې د لوګر د خرخ په
ته وه او د غزنوي دورې کوفي خطونه او نقشونه

## (۱۱)

# ګاولې او څپلۍ جوړول

ګاولې د سړو سيمو يو راز پوره بوټ غوندې ګنډلی پای پوښ دئ، چې د غويي يا اوښ له څرمنې څخه جوړېدې. څپلۍ د تودو سيمو لپاره د څرمنې له تراډو څخه په داسې ډول جوړول کېدې، چې پښې ته ډېره هوا ورسېږي. په تودو سيمو کې بل راز ((خړې)) موچنې هم وې، چې کله کله به په رنګينو تارو يا ګلابتونو نفيسه ګل کاري هم پر کېده، چې زرينې موچنې، يې بللې او له دغو څخه پېښورۍ او ملتانۍ مشهورې وې.

له څرمنې او نخي سپين اودلي تاره څخه يې هم داسې موچنې جوړولې، چې ډېرې سپکې وې او ((ګېوې)) يې بللې. او کله به له لرګو يا خاشو يانباتي اليافو څخه هم موچنې جوړېدې، چې هر قسم يې يو راز خاصه ښکلا درلوده.

د افغانستان په اکثرو ښارو او کليو کې ددغو صنعت کارانو خاصې راستې او دکانونه وو.

ketabton.com - The Digital Library

# (۱۲)
# سراجي او پالان سازي

د آس زینونه او د حیواناتو کتې او پالانې او ځلونه جوړول د خلکو د ژوندانه او حمل و نقل لومړی احتیاج و او په ۱۳۰۰ش ۱۹۱۹ م چې موټر رواج موند، تر دې دمخه په هر ښار کې د سراجانو او زین او کیزو سازانو د کانونه وو، چې د آس د ښکلا د پاره به يې هم دځرمنو ښخه ښکلي سامانونه جوړول. دخرو، اوښانو او نورو حیواناتو لپاره پالان سازي او دکتو جوړول هم یو مروج صنعت و.

ketabton.com - The Digital Library

(۱۲)

# ...ي او پالان سازي

...حيواناتو کتي او پالاني او ځلونه جوړول د
...ل و نقل لومړی احتياج و؛ او په ۱۳۰۰ش
...ج موند، تر دې دمخه په هر ښار کې د
...زو سازانو د کانونه وو، چې د آس د ښکلا د
... ځخه ښکلي سامانونه جوړول. دخرو،
...اتو لپاره پالان سازي او دکتو جوړول هم يو

# د خاورو د لوښو صنعت (کلالي)

د افغانستان په اکثرو سيمو کې د خاورو لوښي په څښنګ او خوړنګ کې استعمالېږي.

منګي. کاسې. غابونه. صراحۍ. اوخورۍ. کونجۍ. منګوټي. دکۍ. تغاره. من. کوزه. کنډولي. نيمني. ګيلاسونه او ډير لوښي له خاورو څخه جوړوي. چې تر اوسه لاهم د لاسي کلالۍ دستګاهونه او د خرڅلاو دکانونه په اکثرو ښارو کې سته.

د کندهارد خاورينو لوښو دکلالۍ صنعت ډېر نري او ظريف لوښي په ساده خاورينه توګه راباسي. چې کله کله نقاشي هم لري د

ketabton.com - The Digital Library



کابل د استالف لوښي چې په خاصو رنګه لعابونو ښکلي کېږي، د لاسي صنعت یوه ښکلې ځانګه ده.

د هرات د کاشي کارۍ صنعت خو د آسیا په ښکلیو صنایعو کې تاریخي شهرت لري او ددې صنعت بقایا تر اوسه لا هم په هرات او بلخ او کابل کې پاته دي.

منقش او رنګین کاشي چې په ګلانو او هندسي خطوطو او اشکالو مزین دي ددغه صنعت د ودانیو د تزیین بهترین وسایل دي، چې پخوا به یې رنګونه پاخه او معدني وو، خو اوس یې جوهري رنګونو، پخوانی اصالت ور وران کړئ دئ.

ketabton.com - The Digital Library



چې په خاصو رنګه لعابونو ښکلي کېږي، د
ځانګه ده.

رۍ صنعت خو د آسیا په ښکلیو صنایعو کې
ددې صنعت بقایا تر اوسه لا هم په هرات او

اشي چې په ګلانو او هندسي خطوطو او
صنعت د ودانیو د تزیین بهترین وسایل دي،
ه پاخه او معدني وو، خو اوس یې جوهري
ور وران کړۍ دئ.

# (۱۴)
# زرګري

د راز - راز پسولونو لپاره په ټول افغانستان کې د زرګرۍ صنعت لـه پخوا څخه تر اوسه لا هم پاتـه دئ. د هرات او کندهار او کابل زرګران په هنري مهارت ښکلي پسولونه جوړوي.

په لویو کلیو کې هم زرګران وي، چې د سر، غاړې، لاسو او پښو لپاره د ښځو زیبا پسولونه له سرو او سپینو زرو یا ژیړویا کوټو څخه جوړوي.

په دغو پسولونو کې خال، ټیك، بادام، غوږوالۍ، پېزوان، لښتۍ، چمکلۍ، هار، نته، اوږۍ، امېل، وښي، پایزېب او نور ډېر اقسام جوړېږي.[1]

---

(۱) آریانا دایرة المعارف ۳/ ۲۳۶۶.

ketabton.com - The Digital Library

# دولتی تشبثات

تر استقلال راوروسته د افغانستان په دولتی تشبثاتو کې د هنر او صنعت لپاره دغه اقدامات په کابل کې سوي دي:

(۱) د افغانستان د صنایعو د تشویق لپاره یوه نظامنامه په۱۳۰۲ ش ۱۹۲۳ م خپره سوه.

(۲) په ۱۳۲۸ ش ۱۹۴۹ م د تشویق صنایع اصولنامه.

(۳) په ۱۳۳۴ ش ۱۹۵۵ م د زراعتي بانك او لاسي صنایعو اساسنامه.

(۴) په ۱۳۳۴ ش ۱۹۵۵ م د سینما، تیاتر او فلم اخیستلو دموسساتو لایحه.

(۵) په ۱۳۳۸ ش ۱۹۵۹ م د معارفو د تجارتي صنایعو اساسنامه.

(۶) د ۱۳۴۰ ش ۱۹۶۱ م په حدودو کې د پوهنې وزارت یو د میوزیك مسلكي مكتب هم جوړ کئ، چې د زاړه او نوي موسیقي اصول پکښې ښوول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# دولتی تشبثات

روسته د افغانستان په دولتی تشبثاتو کې د هنر
ه اقدامات په کابل کې سوي دي:
. د صنایعو د تشویق لپاره یوه نظامنامه په ۱۳۰۲
خپره سوه.
۱۹۴۹ م د تشویق صنایع اصولنامه.
۱۹۵۵ م د زراعتي بانك او لاسي صنايعو اساسنامه.
۱۹۵۵ م د سینما، تیاتر او فلم اخیستلو
حه.
۱۹۵۹ م د معارفو د تجارتي صنايعو اساسنامه.
۱۹۶ م په حدودو کې د پوهنې وزارت یو د
کي مکتب هم جوړ کئ، چې د زاړه او نوي
پکښې ښوول کېږي.



(۷) په ۱۳۴۴ ش ۱۹۶۵ م د تیاتر د هنري موسسې اساسنامه.

(۸) په ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳ م په کابل کې د افغان ننداري موسسه د کابل د چمن په سیمه کې د سینما، تیاتر، میوزیك، رقص او نورو تمثیلي هنرونو لپاره جوړه او اساسنامه یې خپره سوه، چې اوس ځینې فلمونه هم جوړوي او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د هنر په ریاست پورې اړه لري.

(۹) په ۱۳۵۴ ش ۱۹۷۵ م د لاسی صنایعو د انکشاف مرکز جوړ او اساسنامه یې خپره سوه.

(۱۰) د ۱۳۴۰ش ۱۹۶۱ م په شاوخوا کې یو د صنایعو مکتب د پوهنې وزارت تاسیس کړئ و، چې تر اوسه هم چلېږي او په پروګرام کې یې د رسامۍ، نقاشۍ، مجسمه سازۍ، رنګمالۍ، معمارۍ، نجارۍ، تزیین او حکاکۍ زده کړه داخله ده.

(۱۱) د غلام محمد میمنه ګی په نامه یوه د مستظرفو صنایعو موسسه له ۱۳۵۰ ش ۱۹۷۱ م را په دې خوا د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د هنري روزنو کار کوي.

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*